هاري واشنګټن ۲۳/۰٦/۲۰۰۹

# د لبنان انتخابات او د ایران رسوایي

په مینځني ختیځ کي د ښو خبرونو کمی خامخا وي. خو په تېرو دوو اونیو کي د لبنان او ایران انتخاباتو د ازادی، د قانون حاکمیت، او دیموکراسی د خوږېدو لپاره ښه او بد اړخونه لرل.

له یوې خوا، لبنانیانو په وروستي انتخاباتو کي د مارچ ۱٤ ایتلاف ته بیا د اعتماد رایه ورکړه، او د مارچ ۱٤حاکم ایتلاف چي مشري یې سني شتمن بیلونر سعد حریري کوی، تر پخوا اضافه چوکی تر لاسه کړې. د پارلمان له ۱۲۸ چوکیو څخه حاکم ایتلاف ۷۱ او د هغه سیاسي رقیب حزب الله ۵۷ چوکی وګټلې. په انتخاباتوکی د مستحقو رایو ورکونکو ۵۵ فیصدو برخه اخیستي وه. د رایو ورکونکو قاطع اکثریت څوانان ول. په مینځني ختیځ کی، په تېره بیا، په لبنان او ایران کی د ځوانانو نقش تر بل هر وخت لا راڅرګند سو.

که څه هم د اسرایلو اشغال ۲۰۰٦ په بهیر کی، حزب الله پوره مېړانه او نرتوب وښود، خو اکثرو لبنانیانو د سعد حریري نشنلسټ او سیکولر ایتلاف د حکومت کولو لپاره بیا غوره وباله. په انتخاباتو کی تشدد او مرګ ژوبله و نه سوه.

لبنان وښوده چي په قاهري کي د ښاغلي اوباما وینا د افراطي او مذهبي ډلو جاذبه او اپیل څه کمزوری کړی. د انتخاباتو څه مخکي، لبنان ته د جمهوررییس مرستیال جو بایډن او د بهرنیو چارو وزیري مېرمن کلنټن سفر بې اغېزې نه وو.

د مارچ ۱٤ ایتلاف د بري یو بل مهم عامل ښه اقتصاد وو. د لبنان کلني تولیدات په ۲۰۰۸ کی ۹ فیصده وده کړېده چي ښایي په نړی کی ساری و نلري. د ملی عایداتو داخلي سرچیني په زیاتیدونکی توګه ځګېږي. د ټوریزم صنعت او سیلانیان ۵۰ فیصده زیات سوي دي. صنعتي تولیدات هم مخ پر زیاتېدو دي. همدې اقتصادي پرمختګ د سعد حریري له بري سره په کافی اندازه مرسته وکړه.

د مینځنی ختیځ د نورو ملکونو غوندي لبنان هم د مختلفو اقوامو او مذاهبو څخه جوړ دی. تل قومی او مذهبی تاوتریخوالی پکی موجود وی. د لبنان اساسی قانون قومی تقسیمات او فرقوي کوټا رسمي کړیده. په لبنان کی، هر حاکم حزب ایتلافی ملګرو ته اړتیا لری. په عین حال کي، قومی، فرقوي، مذهبي ملیشاووي ثبات او سولی ته دایمي خطر وی.

اکثرو لبنانی سنیانو د مارچ ۱٤ ایتلاف ته رایي ورکړې. مسیحیان پر دوو ډلو وېشل سوي وه. یوه برخه یې د حزب الله سره او بله ډله یې د سعد حریري سره ودرېدل. شیعه ګانو هم په لوړه کچه حاکم حکومت ته رایي ورکړې.

بلخوا، د ایران اوسنی انتخاباتی رسوایي د اسلامی انقلاب ۱۹۷۹ را پدې خوا لمړی سیاسي مخالفت دی چي د اخوندی رژیم اډاني لړزوي (جون،۲۱). د جمهوری ریاست انتخاباتو د رایو حساب لا نوو ختم سوی چي برحاله جمهوررییس محمود احمدی نژاد بریالی اعلان سو. د ایران حاکم ملایانو غوښتل چي د یوه پاسته او" بخملی انقلاب" مخه ونیسي. خو په انتخاباتو کي تګي او تقلب د ایران د رژیم مشروعیت تر سوال لاندي راوست، او د ایران د سیاسي ناکراریو لپاره یي د یوه مرکز او مشر پروسه لا پیاوړې کړه. د ایران ملایانو فکر کوي چی د انټرنټ او ټکسټ مسیجینګ په دنیا کی د ژوندیو او انټرنټ ته وصل خلکو رایی غلا کول اسانه کار دی. د ایران رواني ناکرارۍ ښیي چي پدې عصر کي د مذهبي دیکتاتوری دوام ورځ په ورځ ګرانېږي.

د ایران سیاسي بحران د رایو په حساب کي د تګي برګي په خاطر را پیدا سو. ایرانیان باور لري چي د غلا سوي چرګ لکی د اخوند تر چپنی لاندی را ښکاره سوه.

د ایران روحانی مشر ایت الله علی خامنه ای د جمعي د ورځی (جون، ۱۹) په بیان کي روغه جوړه له سره رده کړه، او موسوي ته یې د مقاومت او یا تسلیم تر منځ بل هیڅ شی پرې نه ښود. ایت الله علی خامنه ای چي تر اوسه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پورى يي د يوه مينځګړي حيثيت لاره، مګر اوس يي د احمدى نژاد د ځرګند تقلب تاييد او ملاتړ وکړ. هغه مخالفانو ته په ډاګه وويل چي د هر راز مظاهرو او وينو توېدو مسوليت به د دوى په غاړه وي.

د ايران انتخاباتي رسوايي دي حد ته رسېدلي ده چي يا به رژيم د اعتراضونو د ځپلو لپاره له زيات تشدد، اختناق، او مرګ ژوبلي څخه کار اخلى، او يا به د زرغون مخالفت شرايط مني. په حقيقت کى، انتخابات د اسلامي انقلاب د راتلونکي جهت په اړه يو ريفرينډم وو. پدې ريفرينډم کى، دا په ډاګه سوه چى اکثره ايرانيان ازادي، د قانون حاکميت، او د نوري نړۍ سره دوستانه اړيکي غواړي. له خپل حکومت څخه کار او خدمت غواړي. په انتخاباتو کى قريب ۸۵ فيصدو مستحقو رايه ورکونکو ګډون کړى وو.

د زرغون اپوزېشن ۶۷ کلن مشر مير حسين موسوي که څه هم يو تصادفي مشر به وى، خو دمګړى د ايران د نوى نسل غوښتني او انديښني منعکسوي. موسوي په ايران کي د سياسي او اقتصادي نا راضيانو د مختلفو ډلو ملاتړ لري. موسوي د ايران په سياسي جوړښت کي اصلاح غوښتونکي بلل کيږي. هغه د ايران د اوسنى مشرتابه په هغو مخالفانو کي حسابيږي چي رژيم په خپل ځان او بطن کي روزلي دي. د زرغون مخالفت بل لوى موفقيت د سوله ايزو مظاهرو بند و بست او تنظيم دى. په اکثرو خياباني لاريونونو کي خلک چوپ او منظم روان وي. د عدم تشدد له اعتراض سره مقابله کول د يوه حکومت بېخ باسي، او داسي ښکاري چي ښايي ايراني ملايان پدې مقابله کي خپله بګړى او چپنه دواړه له لاسه ورکړي. د ايران رژيم قهر، ډار، او د خارجي دسيسو اوازې خوري. ځآن د ايران ساتولو پهلوان بولي.

مير حسين موسوي د اسلامى انقلاب توليد دى. د تبريز د يوه تجار زوى دى. هغه پروفسور، مهندس، رسام، او د ايت الله خامنه اى کليوال هم دى. د ايران او عراق (۱۹۸۰- ۱۹۸۸) د جنګ په دوران کى صدراعظم وو. ښاغلى موسوي د ايت الله خمينى نژدې ملګرى وو. هغه زيات د عمل سړى دى. مذهبى سوانح لرى، خو پراګماتيک او رياليسټ هم دى. د هغه مېرمن زهرا رهنورد په اسلامى جريان کى اوږده سابقه لري. ښاغلى موسوي تر اوسه پورى ډېر مهذب او مصمم دريځ غوره کړى دى. رژيم ته لا ندى تسليم سوى، او خپل روا حق غواړى.

بلخوا، ښاغلى احمدى نژاد بسيجي رېښې لرى، او سوچه ايرانى ښکاري. احمدي نژاد څه پارانويډ او ماخوليا هم دى. په هرکار او هره خبره کى د "شيطان بزرګ" دسيسه ويني. د ذره وى وسلو شوقى او د هالکاسټ منکر هم دى. هغه په يوي متوسطي کورنى کى پيدا سوى دى، او ټول تحصيلات يي په ايران کى کړى دى. احمدي نژاد د اسلامى انقلاب او ولايت فقيه تونډلاري پلوى دى. هغه په سيمه کى د ايراني اخوندي رژيم د هژموني خورول غواړي.

بل پلو، د ايران انتخابات د هېواد په مشرۍ کى انشعاب او درز ښيي. د ايران دوه پخواني جمهورريسان د موسوى په ګټه کمپين کوى. تر انتخاباتو فقط څو ورځي مخکي، رفسنجانى ايت الله خامنه اى ته په يو سر خلاصى ليک کي په انتخاباتو کي د احمدي نژاد د ټګى برګى د نيت او تياري په اړه خبردارى ورکړ. دغه راز، ښاغلى خاتمى هم د موسوى په ګټه کار کوى. د ايران مشهور مبارز روحانى مشر ايت الله منتظرى د موسوى ملاتړ کوي. هغه په انتخاباتو کى تقلب تاييدوي. د نهضت ازادي مشر ابراهيم يزدي هم په انتخاباتو کي پر جعل کارى ټينګار کوي. هغه وايي په تبريز کي د احمدى نژاد کاميابي امکان نلري.

د لبنان په انتخاباتو کي د حزب الله باخت په ايران کي حاکم ملايان وډارول. هغوى په خپلو سترګو وليدل چي په حزب الله څه وسوه. د ايراني اخوندانو لپاره د لبنان انتخابات د خطر زنګ وو.

که څه هم د ايران انتخابات عموما ازاد نه وى-کانديدان لمړى د ملايانو تر فيلتر تېرېږي - خو دا ځل دکانديدانو تر مينځ د کورني سياست څخه نيولي بيا تر خارجي پاليسيو پوري جدي او بنيادي اختلافات موجود ول. احمدي نژاد د ولايت فقيه او حکومتي حلقو ملاتړ لرى. خو موسوي په عامه ايرانيانو کي زيات پلويان لرل.

ايران د مينځني ختيځ د نورو هېوادونو په شان د يوه ځوان او بېکاره نفوس سره لاس او ګريوان دى. د ايراني ځوانانو نه اسلامي انقلاب ۱۹۷۹، نه د شاه ساواک ، او نه يي هم د ايران او عراق تباه کونکى جنګ په ياد دى. د ايران ۳۵ فيصده نفوس د ۲۹-۱۵ تر مينځ عمرونه لرى. ۷۰ فيصده ايراني ځوانان بېکاره دي. بلخوا، د ايران مينځنى طبقه پراخه، ناراضي، او د انټرنټ سره پوره وصل ده. په ۱۹۵۰ کي، ۲۵ فيصده ايرانيانو په ښارونو کى اوسيدل. د اسلامي انقلاب په سرکى، قريب ۵۰ فيصده په ښارونو کي ژوند کاوه. خو نن ورځ ۸۰ فيصده پداسي ښارونو کي اوسيږي چي نفوس يي يو ميلون ته رسيږى. د نورو هېوادونو غوندي د ايران مينځنى طبقه کار، ښه ژوند، اوکلتورى او مدنى ازادي غواړي. هغوى د ښځو او نارينو تر مينځ برابرى او مساوات غواړي. د امريکا او


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکارى دعوت مى نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

غرب سره دوستانه اړیکی غواړي. د ایراني ځوانانو لپاره د ملایانو مفکوره، سیاست، او ایدیولوژی نور هیڅ کشش او اپیل نلر ي.

احمدي نژاد په انتخاباتو کی د تقلب په منظور په داخله وزارت کی خپل اعتمادي کسان د رایو د شمېرلو په مقصد ځای پر ځای کړي ول. د موسوی کوډ نمبر ٤ وو، او د احمدي نژاد کوډ ۴۴ وو. د هری حوزې د انتخاباتو نتایج یې هم اعلان نه کړه، بلکي فقط د ولایاتو عمومي شمېره یې اعلان کړه. داخله وزارت ځینی مامورین وایی اصلا رایي شمېرل سوي ندي، بلکی جعل سوي نمري اعلان سوی.

د ایران اوسنی مشکل سیاسی او اقتصادی دی. ښایی پولیس او بسیجي وکړای سی چی خلک وډاروی، تظاهرات وځپی، خلک بندی کړی، خو امنیتي قوه اقتصادی ستونزي نه سی حلولای. د ایران رسمی امار بېکاری ۱۷ فیصده ښیي، او انفلېشن ۲۵ فیصده بولی. خو اکثره مستقل څارونکی د بېکارۍ او پولی تورم کچه جگه گڼی. دغه راز، په اسلامی دولت کی اداری فساد او بډی هم د اکثرو ایرانیانو کرکه زیاته کړېده. د تیلو په عایدو کی د مذهبی نهادونو لتاړېدل ځوان ایرانیان د اخوندانو له حکومت څخه بېزاره او خواتوري کړی دی.

اوس به معلومه سی چی د ایران حاکم ملایان د تشدد او مرگ ژوبلی لپاره څونه جاغور لری؟ دغه راز موسوی او د هغه پلویان څونه زغم او مقاومت کولای سی؟ د ایران د اخوندانو رژیم د زمان له درنې څپېری سره مخامخ دي. د ایران اخوندان له یوې خوا د ځوان او هوښیار نسل سره مخامخ دی، او له بلي خوا، جهان ورځ په ورځ ورته کوچنی کېږي. که څه هم د ایران روحانی مشر ایت الله خامنه ای د جمعي په ورځ د استکبار او صهیونزم د دسیسو خبري وکړې، خو څرگنده خبره ده چی د ایران ملایان نور د "شیطان برزگ" د مداخلو وسله له لاسه ورکړېده. د ښاغلی اوباما احتیاط او منطقی دریځ د اخوندانو لپاره زیاتي ستونزي راپیدا کړیدي. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de